# جدید پښتو نظم په بنو کښې

# Modern Pashto Poem in Bannu

Tariq Mahmood [1], Noor Muhammad Danish Bettani [2]

Like the other parts of Pakhtunkhwa, Bannu has also great contributions regarding the modern poetry after the classical poetry in Pashto literature in the mid-20th century. As Tahir Kulachwi, a great poet of Bannu laid the foundation of Pashto Literary Society in 1956, so the well-known and well-educated poets and writers also joined him in that great work and began to study Pashto literature as well as other literatures especially English literature. From that literary society, the regular literary tradition initiated in Bannu in 1956, and so the modern literature also started in the same years. Among those well-known poets were Abdur Raheem Majzoob, Ghazi Sialsb, Luqman Tariq, Master Jamal and so forth. So for as the question of the modern poetry of Pashto is concerned, it originated from English to Urdu and then to Pashto. In 1865, after the 1857 War of Independence, the Anjaman-e-Punjab, an organization which was established for the welfare of the society rebelled the traditional and formal style of Urdu poetry.It laid the foundation of new thoughts and opened a new era for the modern poetry. In Pashto literature, especially in poetry, it has also its own different types of poetry, such as Tapa, Nemaki, Buggy, Charbetha, Loba, Baddala, and so on which could not be find in other literature. Indeed, it is the great blessing of Tahir Kulachwi, who established the foundation of "Pakhto Adabi Toloona" with other well-known poets and initiated the regular and modern Pashto literature and flourished the soil of Bannu with the real literature. However, to pace with the new era for a long walk, it was necessary to find out the demands of a new era, which was fulfilled by the "Wolasi Tanqeedi Toloona Bannu".

لکه د نورې پښتونخوا په بنو کښې هم د قدیم یعني کلاسیکي نظم نه پس د جدید نظم اغاز په شلمه پیړۍ کښې کیږي ۔ خو اګاهو د دې بحث نه غواړم چې د نظم او جدید نظم یوه لنډه شان جائزه واخلو ۔

په اصل کښې د ادب دوې غټې برخې دي چې یوې ته نثر او بلې ته نظم وائي ۔ د نثر که څۀ هم لغوي معنا شیندل ، پاشل او خورول ده خو په اصطلاح کښې نثر د ژبې هغه انداز ته وائي چې لفظونه پکښې په یو خاص ترتیب کښې راځي چې بنیادي اکائي ئې جمله ده او جمله د خپلو ټولو

1 PhD scholar Pashto Academy University of Peshawar
2 Asstt Prof Pashto Academy University of Peshawar

قسمونو سره د مضمون په بیانولو کښې خپل ربط ، تړون او تسلسل په ځاي ساتي او د ترتیب خپل ښائست لري ۔ د دې په مقابله کښې نظم کښې که څۀ هم د ملغلرو پېيلو ته وائي خو په اصطلاح کښې د اظهار یا د لیک هغه انداز ته وائي چې د لفظونو ترتیب په کښې د وزن تابع وي ۔ د نثر د جملې په مقابله کښې د نظم بنیادي اکائي مصرعه ده ۔ حقیقت دادے دې چې نثر هم څۀ بې ترتیبه لیک ته نۀ وائي ، بلکې په نثر کښې د نظم په نسبت زیاته د ترتیب پابندي کېږي ۔ په دوارو کښې زما په خیال د فرق دپاره به دا پېمانه مناسبه وي چې د نثر په جمله کښې لفظونه د فاعل ، مفعول او فعل په نوم د مخصوص ساختیاتي قانون تابع وي او د نظم په مصرعه کښې لفظونه د وزن تابع وي ۔ چونکې زمونږه موضوع د نظم سره تعلق لري نو خبره دا ده چې نظم بیا په دوو معنو کښې استعمالېږي یوه هغه ټول کلام چې نثر نۀ وي نظم دے ۔ او بله دا چې نظم د یو خاص صنف په حېثیت سره راشي ۔ دې نه علاوه د نظم بیا دوه قسمونه ښودل کېږي ، یو د موضوع په لحاظ لکه حمد ، نعت ، منقبت مرثیه او بل د هیئت په لحاظ لکه قصیده ، غزل ، مثنوي ، رباعي ، قطعه ، مخمس ، مسدس ، ترکیب بند ، ترجیع بند ، مستزاد او داسې نور ۔ د ذکر شویو صنفونو نه علاوه په پښتو شاعرۍ کښې خپل ذاتي صنفونه هم شته لکه ټپه ، چاربېته ، لوبه ، نیمکۍ ، بګټۍ ، نارې ، کاکړۍ غاړې ، کسر او بدله ، له دغو علاوه نور جدید صنفونه هم په کښې موجود دي لکه پابند نظم، معرے نظم ، ازاد نظم ، نثري نظم ، سانېټ ، هائیکو او داسې نور ۔ او بله دا چې زمونږه موضوع هم د پښتو جدید نظم په بنو کښې محدوده دائره لري ۔ نو راځۀ چې خپلې موضوع ته راشو ۔

کله چې په ۱۹۵۶ کښې ارواښاد طاهر کلاچوي صېب د ارواښاد روغ لېوني په ملګرتیا کښې د پښتو ادبي ټولنه بنو بنا بږدي او د ټولنیز ادب اغاز کېږي نو سنجیده او تعلیمیافته شاعران او ادیبان هم زړونه نیسي او په یو مرکز نۀ یوازې راغونډېږي بلکې د پښتو نه علاوه د نورو ژبو په خصوصي توګه د انګرېزي ادب مطالعې هم کوي ۔ تر دې وخته پورې یوازې طرحي او ازادې مشاعرې کېدې خو یو وخت داسې راغے چې ټولنې غزونې وکړې او د جدید ادب نه متاثره او باخبره ځوانانو لکه عقاب خټک ، سید امیر سرحدي ، ګل ایوب سېفي ، عبدالرحیم مجذوب ، لقمان طارق او ماسټر اطلس خان په ۱۹۶۰ عیسوي کښې د اولسي تنقیدي ټولنې په نوم د یوې ازادې ټولنې اعلان وکړو۔ اوس

دلته په خلاص مټ تنقيدي ناستي شروع شول ـ په دوي کښې جديد نظم ګو شاعران څوک څوک وؤ په دا اړه روستو بحث راروان دے اوس بايد د جديد نظم پېژندنه وشي ـ

د جديديت او کلاسيکيت د تعريف په لړکښې مېرمن ډاکټر سلمه شاهين په خپله تحقيقي مقاله کښې ليکي :

> ”د جديد يا جديديت اصطلاح د کلاسيکيت په مقابله کښې راوړاندې کېږي ـ کلاسيکيت په اصل کښې يورپي اصطلاح ده چې د ادبي رهنمايۍ دپاره به د يونان يا رومن ليکونکيو ته رجوع کولې شوه ـ هيئت پرستي ، قدامت پسندي ، عقليت ، اصول پسندي او اعتدال د کلاسيکيت خاص کړۀ وړۀ دي ـ “ ۱

جديديت په هره هغه زمانه کښې زېږېږي کومه چې دعلمي انکشافاتو په اتبار د نويو تبديليو او رواياتو او رسمونو د غرئيز حېثيت له کبله رجعت پسند وي ـ خبره د نفسياتي نوعيت ده ـ کله چې د علم دائره بشپړه وي او د نظرېه وړاندې نوے افق ښکاره کېږي نو په قدرتي توګه دا ټول پخوانے ژوند مشکوک ښکارېږي ـ ولې انسان د خپلې ماضي په نفس په ګرانه رضامند کېږي ـ هم دې دپاره د پخواني ژوند سره وابسته اوسېدلو کوښښ کوي ـ داسې د هغۀ ژوند د عجيبه منافقت په زد کښې راشي ـ په ذهني توګه دوي د نوې زمانې سره وي او په جذباتي توګه د زړې زمانې سره ـ دا د انساني تاريخ زيات نازک او دردونکے دور دے ـ لکه څۀ رنګ چې د فن تخليق د عمل سره ترسره کېدلے شي کوم چې د انسان په جذبه او علم کښې پېدا شوي خليج ډکولو دپاره د تخليقي صلاحيت نه کار اخلي ـ په دې حقله ښاغلے ډاکټر تبسم کاشميري په خپل کتاب ” جديديت کيا هے “ کښې ليکي :

> ژباړه : “هر عهد د خپلې تجربې بنياد د خپل عهد تهذيبي ، کلتوري او معاشي ادراک نه په ترلاسه شوې فلسفه باندې بږدي ـ دا فلسفه د خپلو ټولو امکاناتواو حدودو ټاکنه کوي چې ادراک ئې يو خاص عهد کولے شي ـ د يو خاص عهد دا فلسفه او د دې نه زېږېدونکے ادب د خپل عهد نه مخکښې د ادب او فلسفې تاريخي شعور لرلو په بنا د دې نفي کوي ـ او د دې نفي په

نتیجه کښې د مثبتو راویو د لټون سره د ادبي تکمیل کار ترسره کېږي ـ ولې د یو خاص عهد فلسفه چې د څومره هم امکانات او حدودلري د دې حدودو یو حد ضرور وي ـ دا عهد د خپلې تخلیقي تجربې سفر ختموي او حدود ټاکي ـ ” ۲

څو پورې چې سوال د جدید نظم پښتو ته د راتلو دے ، نو پښتو ته جدید نظم د انګرېزۍ نه د اردو په لار راغلے دے ـ د ۱۸۵۷ جنګ ازادي نه پس په ۱۸۶۵ کښې انجمن پنجاب یو تنظیم چې د خېر ښېګړې د کارونو په نوم جوړ شوے وۀ د دې انجمن اهمیت په دې وجه ډېر زیات دے چې دې انجمن د اردو شاعرۍ روایتي او بې دمه طرز احساس او تړلي اصولو او بندشونو اسلوبو نه بغاوت وکړو او د نوي فکر او احساس بنیاد ئې کښېښودو۔ دې انجمن د داخلي فکر او احساس په مقابله د خارجیت خورو ورو سلسلو نه د شعري ادراک حاصلولو طرف ته توجه وکړه ـ د انجمن پنجاب مشاعرې د مولانا حسین ازاد ، الطاف حسین حالي ، ډپټي نذیر احمد او هالرائیډ په دلچسپۍ شروع شوې د دوي مقصد اردو شاعري د روایت د محدودې دائرې نه راویستل او د نوي موضوعاتو سره اشنا کول وو۔

په دې حقله محمد سرور په " جدید شاعري کا اغاز اور ارتقا " کښې لیکي :

ژباړه : " محمد حسین ازاد ته د جدید رنګ باني او محدود وئیل نۀ دي پکار۔ هغۀ د زړې رسمي او تقلیدي شاعرۍ په خلاف تر ټولو اول احتجاج پېل کړو او د شعر اصلي نصب العین ئې په جار وړاندې کړو۔ " ۳

د کلاسیکي ادب نه اګاهو په پښتو کښې چې کوم ادب وجود لري هغه اولسي ادب دے ـ اولسي ادب ته که د جدید ادب په نیت وکتلے شي نو ټپه ، لوبه ، نیمکۍ ، بګټۍ او هره مصرعه ئېزه به ورته جدید نظم وښکاري ـ مطلب دا چې جدید نظم د کومې ازادۍ او ازاد خیالۍ خبره کوي هغه د پښتو په قدیم نظم کښې سل په سله پوره په نظر راځي ، ولې د کلاسیکیت نه پس په باقاعده توګه په پښتو کښې د جدید نظم اغاز د مولوي مضل محمود مخفي نه کېږي ـ په دې حقله محترمه سلمه شاهین په خپل کتاب " جدید نظم په پښتو کښې " کښې داسې ګویا ده :

" په پښتو کښې د جدید نظم په اصلي توګه آغاز بیا د فرنګي خلاف په جهاد کښې شوے دے ـ دا یوه نوې جذبه او نوې ولوله وه ـ د انګرېزانو د غلامۍ په خلاف پښتونخوا کښې ځاي په ځاي تحریکونه شروع شوي وو ـ په هغو کښې د شاعرانو لويه برخه وه ـ او دا خبره يقين ته پرېوځي چې پښتو کښې د جدید نظم ابتدا په پوره توګه د فضل محمود مخفي صېب د شاعرۍ نه کېږي ـ " ۴

بيا د فضل محمود مخفي نه پس د پښتو جدید نظم سلسله د سيد راحت زاخيلي ، محمد اسلم خان کمالي ، فضل اکبر بې نوم ، محمد اکبر خادم ، عبدالمنان منان ،ميا ازاد ګل ، عبدالمالک فدا، عبدالاکبرخان اکبر ، سمندر خان سمندر ، صاحبزاده ادريس ، فضل رحيم ساقي ، شېر محمد مېنوش ، مير رحمان غازي او اميرحمزه خان شينواري د قلم په لاره د شلمې پېړۍ هغه برخې ته ګډېږي په کومه کښې چې که يو طرف ته کاکاجي صنوبر حسېن د اولسي ادبي جرګې په بنيادشاعران د شعوري تنقيد سره اشنا کوي نو بل طرف ته د اسلاميه کالج او ايډورډ کالج طالب علمان په باقاعده توګه د مغربي ادب د مطالعې په رڼا کښې جديد نظم ته لاس اچوي ـ په دې بناغليو کښې کاکاجي صنوبرحسېن ، اميرحمزه خان شينواري ، دوست محمد خان کامل ، اجمل خټک ، قلندرمومند ، ميرمهدي شاه مهدي ، ولي محمد طوفان ، صاحبزاده فېضي ، سېف الرحمان سليم ، محمد افضل بنګش ، حسېن بنګش ، کوثر ، لطيف وهمي ، طالب راجک ، سردار خان فنا ، همېش خليل ، ايوب صابر او د دې نه علاوه فضل حق شېدا ، سيدرسول رسا ، اشرف مفتون ، غني خان ،طاهرکلاچوي ،ايوب صابر ، غازي سيال ، عبدالرحيم مجذوب ، منتظر بېټني او داسې نور ـ خو چونکه زمونږ موضوع په بنو کښې د جديد پښتو نظم دے نو راځو خپلې موضوع ته ـ

په بنو کښې د باقاعده ادب اغاز د ۱۹۵۶ نه کېږي او د جدید ادب اغاز هم دې ځاي نه کېږي ـ د بنو د ادبي تاريخ چې مونږ جائزه اخلو نو د کال ۱۹۵۶ نه په خوا د بنو زمکه د ادب په لحاظ سره يوه شاړه مېره معلومېږي ـ په دغه زمانه کښې به عوامي شاعران وو چې هغوي به د خلقو د شعري تسکين دپاره چاربېتې ، بدلې ، سندرې او يا داسې نور قسمونو نه موزون کلام جوړولو خو هغه کلام به په مقامي لهجه کښې او صرف د هغې موقعې يا د څۀ واقعې سره به تړلے وو چې نۀ به په هغۀ کلام کښې افاقيت وۀ او نۀ به ابديت ـ خو هغه د چا خبره چې کله د بنو زمکې ته الله تعالے د

ادب په لحاظ د ابادۍ اراده وکړه او د بنو زمکه ئې د ادب په لحاظ ښېرازه کول وغوښتل نو د طاهر کلاچوي صېب روزي ئې په بنو کښې مقرره کړه ـ

حقیقت دا دے چې طاهر کلاچوي صېب د بنو په ادب دا لوي احسان کړے دے چې د " پښتو ادبي ټولنه بنو " بنیاد ئې کښېښودو او دا سیمه ئې د حقیقي ادب سره اشنا کړه ـ خو د نوي دور سره اوړه په اوږه تللو دپاره د نوي دور تقاضې پېژندل او پوره کول ضروري محسوسېدل چې هغه د " اولسي تنقیدي ټولنه بنو " په صورت کښې پوره شوې ـ په دې حقله مجبور سوراني لیکي:

> " تقریبا پینځۀ کاله پښتو ادبي ټولنه بنو ، د بنو واحده نمائنده ټولنه وه خو د دې ټولنې په عهدو باندې یو دوه داسې کسانو قبضه کړې وه چې هغو نۀ خو د چا خبره ، مشوره اورېده او نۀ ئې خپل بصیرت او شعور لرلو، حالانکه دغه وخت په پښتو ادبي ټولنه کښې د عوامي شاعرانو نه علاوه ادبي شاعران او نقادان هم موجود وو ـ چې هغوي د ادب د هر صنف نه خبر وو او تنقید برائې اصلاح شوق او ذوق ئې لرو۔ خو د بدقسمتۍ نه پښتو ادبي ټولنې عهده داران داسې کسان وو چې هغوي د تنقید د فن او د افادیت نه بې خبره وو ـ د هغوي شوق صرف د شعر اورولو سره وۀ طرحي او غېر طرحي مشاعرې دوي د ادب خدمت ګڼلو نو په دغه زمانه کښې چې په ټولنه کښې کوم ساهو لیکوال وو چې هغه د پښتو ادب نه علاوه د نورو ژبو د ادب نه هم خبر وو او په پښتو ادب کښې ئې د مشاعرې نه علاوه نوره قسمونه ځایول غوښتل ، د هغو ساهو لیکوالو ځاي په پښتو ادبي ټولنه کښې ورک شو نو د مجبورۍ نه دغه کسانو د یوې داسې ادبي ټولنې د جوړولو ضرورت محسوس کړو چې په هغه کښې د مشاعرو نه علاوه تنقیدي اجلاسونه هم کېږي او د نوؤ لیکوالو اصلاح او حوصله افزائي هم او د پښتو نوے لیکوال د ادب د ټولو صنفونو سره متعارف کېږي ـ نو دغه ساهو لیکوالو د ښاغلي عبدالرحیم مجذوب صاحب په مشرۍ کښې راغونډ شول او په کال ۱۹٦۱ کښې ئې د اولسي تنقیدي ټولنه بنو په نوم یو ادبي انجمن جوړ کړو۔ " ۵

حقیقت دا دے چې طاهر کلاچوي صیب د خپلې برخې ډیوه بله کړه چې د بنو په زمکه ئې د باقاعده او جدید ادب تخم ریزي وکړه ، دا بیله خبره چې هغهٔ ته ماحول دا اجازت نهٔ ورکولو چې په دهٔ راغونډ شوي نواموزه شاعران د تنقید په بټۍ راوباسي ، دا فریضه لاندینو شاعرانو ادیبانو ته پاتې شوه چې اکثرو په کښې په جدید ادب کښې نومونه پیدا کړل ـ هسې خو د جدید نظم په لیکوالو کښې ډیر نومونه راځي خو دلته مونږ د نمونې په توګه یو شمیر نومونه ذکر کوو لکه: عبدالرحیم مجذوب ، عقاب خټک ، ګل ایوب سیفي ، سید امیر سرحدي ، لقمان طارق ، ماسټرجمال ، غازي سیال ، رجب خان رجب ، اثاري ګل اثار ، پیرغلام شمشي خیل ، جمال الدین افغاني ، مانشیرخان، شریعت خان سائل ، نورولي جان ثاقب ، ولي ایاز عاطر ، مجبورسوراني ، مطیع الله قریشي ، حیران خټک ،عبدالقدیرشاه خاکي ، اسدعلي اسد، خان زمان ککي ، ممتازعلي خان ممتاز ، امان الله مینل ، ایاز پیرخیلي ، فلک ناز ناز ، اسلام الدین دلګیر، خیال میر خیالي ، فقیرخیل قدوس، افتخار دراني، فراز پیرزاده ، غلام فرید فرید ، نورقادرشاه سیماب ، جمشیدعلي جمشید، عزیزالرحمن عزیز، شاهین سوراني، ګل عزیز نزار، رشید جوهر، بیتاب عادلوي ، ادریس سوراني ، منیب راحل،عصمت سوراني ، محب وزیر، اعجاز سوراني ، سکندر خان سکندر، هدایت الله عامر ، طاهرخان طائر، یوسف خان جذاب ، هارون سوراني ، یوسف حیران ، انعام الله انعام ، صابرداودشاه ،ګوهر وزیراو طارق محمود دانش ـ

چونکې دلته زمونږ موضوع د جدید نظم سره تعلق لري نو یوځو داسې نومونه ترینه راخلو چې په حقیقي معنو کښې د بنو د جدید نظم نمائندګي کوي چې په کښې د ټولو نه اول د طاهر کلاچوي نامه راځي :

د طاهر کلاچوي سره فکري اختلاف په سر سترګو خو په نظم کښې ئې د فني نوادراتو نه هم انکار نهٔ شي کیدے ـ که څهٔ هم د طاهرکلاچوي په حقله دا دعوے نهٔ شي کیدلے چې موصوف د جدید نظم ټولې تقاضې پوره کوي خو د دې حقیقت نه هم انکار نهٔ شي کیدلے چې طاهر صیب د بنو په خاوره هغه بې مثاله ادبي کردار دے چې کم از کم د بنو شاعري ئې د شاړو نه رواخسته او د ژوند په نوې پټرۍ ئې روانه کړه اوس هغه څومره مزل کولے شي دا په راتلونکي

کهول باندې اره لري ـ خو داسې هم نۀ ده چې ګني طاهرکلاچوي نظم ليکلے نۀ دے ، ليکلے ئې دے او په جديد طرز کښې ئې ليکلے دے لکه نظم " پښتو " يو څو بندونه :

اے د شاغليو ، ننګياليو ، توريااليو ژبې
خدائے زده له کومه او له کوم وخته راغلې ئې تۀ
پرادي خو پريږده خپلو هم تۀ خپله کړې نۀ ئې
هر چا رټلې ئې چې کومې خوا ته تلې ئې تۀ

خپلو شاهانو هم څۀ قدر د تا کړے نۀ دے
د بې قدرۍ له ګړنګونه لا وتلې نۀ ئې
نۀ ده ګټلې تا رڼا د ترقۍ د مشال
د تنزل تورو تيارو نه لا وتلې نۀ ئې

د ترقۍ معراج ته وختلې نورې ژبې
تۀ لا هغسې د پستۍ تحت الثرا کښې ګرځې
نورو په غاړه کړل هارونه د توقير د ګلو
تۀ لا هغسې د تحقير سپيرۀ بېديا کښې ګرځې

يو خوشحال خان دے بل رحمان بابا دے بل حميد دے
ستا په خدمت کښې ئې خپل زړونه اوبۀ کړي دي دوي
يو کاظم خان بل علي خان او داسې نورو ډېرو
د تا دپاره خپل هډونه ويلې کړي دي دوي

که تۀ چا وليدې پښتو ما د طاهر په سترګو
د نورو ژبو لېلاګانې به له تا نه ځار کړي
که ئې ستا کړۀ وړۀ د پښتون په نظر وليدل چا
د نورو ژبو عذراګانې به له تانه ځار کړي ۶

او داسې نور لکه نظم " سترګې " ، " ښکلې سوالګره " ،" رحمان بابا " ، " د امېدونو شپا " ، " رېښتونـے رهبر " او " سهرا " ـ د طاهرصېب نه پس د جدید نظم یو پیاوړے نوم د عبدالرحیم مجذوب مخې ته رائحي ـ

عبدالرحیم مجذوب د دې خاورې هغه نوموړے نظم ګو شاعر دے چاته چې د پښتو جان کیټس وئیل شي نو د دې نه اندازه لګېدلې شي چې موصوف به په جدید نظم کښې څومره وړاندې تلے وي ، مجذوب صېب د پښتو او اردو نه علاوه په انګرېزي ادب هم پوره عبورلري هم دغه وجه ده چې نظم ئې مونږ د مغربي نظم په مقابله کښې پېش کولے شولکه دا یو ورکوټے نظم " ذره " :

ذره

زهٔ اول هم یو ذره وم
بیا خوره شومه په غرونو
په برونو په بحرونو
په قسمت کښې مې بیلتون وهٔ
زما برخه شواخون وهٔ
په ګردش کښې مې ګردون وهٔ
په اخر کښې به ذره شم
له ذرې نه به وړه شم
بیا به وار په وار غونډېږم
بیا به نهٔ سره بېلېږم
نهٔ به غم د جدایۍ وي
ګردشونه به اتال شي
مستقبل به راته حال شي
دا ذرات دا به خدائي وي ۷

د دې نه علاوه د دۀ شاهکار نظمونه " مس پروين " ، " شېخ بدين غرۀ ته خطاب " " زېړ ګلونه "او داسې نور ـ د بشپړه مطالعې دپاره ئې ګڼلے شئ کتابونه : " زېړګلونه " ، " دارالاوهام " ، "لعل کوتې لعل " او کليات دوه جلده ـ

دريم نوم چې کوم مخ ته راځي هغه د ښاغلي غازي سيال دے ـ غازي سيال يو داسې جديد نظم ګو شاعر دے چې رسمي تعليم د پرائمري نه زيات نۀ لري خو په جديد نظم کښې سيال هم نۀ لري ـ هغۀ که يو خوا په نظم کښې فني تجربات بې شمېره کړي دي نو بل طرف ته ئې په فکري لحاظ او تخيلي پرواز کښې هم څۀ کمے په نظر نۀ راځي هم دغه وجه ده چې د وړو وړو ادارو او تنظيمونو په شمول حکومت په صدارتي اېوارډ هم نمانځلے دے ـ پينځلس کتابونه لري چې اکثر په کښې نظم جديد په نظر راځي لکه دا نظم :

زۀ شاعر يم

زۀ خو شاعر يم شاعري کومه
زۀ د هر چا د زړۀ خبرې ليکم
زۀ د هر چا په نبض ګوتې نيسم
زۀ د هر چا زړۀ خپلوم په مينه
زۀ د هر چا په مېنځ کښې مينه وېشم
زۀ په وفا او په خلوص مئين يم
زما په نظم کښې د امن پيغام
زما سندره کښې د ژوند رنګونه
زما غزل د هر حساس زړۀ اواز
ما تش شعرونه ترتيب کړي نۀ دي
ما خو ليکلي دي ژوندي حرفونه
داسې حرفونه چې خبرې کوي
ما خو حرفونو ته ورکړې ژبه
ماته هر څوک په درانه سترګه ګوري

په هره سیمه زما کیږي عزت
دا عزت ماته پاک الله را کړے
دا عزت مانه اخستے نۀ شي څوک
که اخستے ئې شي نو زور دې وکړي
یوه ذره به مې عزت نۀ کړي کم
زما دا ځینې څو نادان ملګري
زما دا دومره ډېر عزت چې ګوري
زما دا دومره ډېر شهرت چې وینې
په زړۀ کښې پټ راته حسد ګرځوي
راته د بل په اوږه نیسي ټوپک
اوږه د بل وي ځښبه دے پرې ولي
څو دا چې ماسره حسد ګرځوي
لکه په خپله خپل شکست چې مني
یو دا خبره دې له مانه اوري
حسد په خپله بدترین شکست دے ۸

د دې نه علاوه د سیال صیب نور نظمونه لکه : " د بنو مازدیګر " ، " د وریځو نیت ښۀ نۀ دے " ، " پښتون یم " ، " ازادي " ، " زما د قام دهقانه " ، " فطرت " ، " ژوندون " ، " د خیالونو ښاپیرۍ " ، " مونږ یو یوُ " ، " د ماشوم ژړا " او داسې نور ـ د مزید مطالعې دپاره ئې کتابونه کتلې شئ ـ

د بنو په خاوره د جدید نظم شاعران مې مخکښې ذکر کړي دي ، که هریو کس راخلو او د هر یو نظم ګو په جدید نظم خبره کوو نو زما په خیال دا به د کتاب نه کمه غوښتنه نۀ ولري ، نو دې دپاره دلته هم په ذکرشویو دریو مشرانو اکتفا کوو ـ او هیله کوو چې لوستونکي به په بنو کښې د جدید نظم د ماضي نه اندازه ولګوي چې حال او مستقبل به ئې څومره ښکلے او په زړۀ پورې وي ـ

که بیا موقعه په لاس راغله نو زمونږ په ذکر شویو نظم کو شاعرانو کښې هر یو د دې ورړ دے چې ځان ځان له پرې مقاله ولیکلې شي ـ

## ماخذونه


۱: شاهین ، سلمه ، پروفېسر ډاکټر ، جدید نظم په پښتو کښې ، ۲۰۰۳ ، جدون پرنټنګ پرېس ، ص ص : ۵، ۶

۲: کاشمیري ، تبسم ، ډاکټر ، جدیدیت کیا هے ، ص : ۱۵۷

۳: سرور ،محمد ، جدید شاعري کا اغاز اور ارتقا ، نگار پاکستان ، جدیدشاعري نمبر ، ۱۹۶۵ ، ص: ۹۵

۴: شاهین ، سلمه ، پروفېسر ډاکټر، جدید نظم په پښتو کښې ، ۲۰۰۳ ، جدون پرنټنګ پرېس ، ص ص: ۳۵،۳۶

۵: سوراني ، مجبور ، د بنو ادب ، ۲۰۱۰ ، پرېس نۀ لري ، ص ص: ۲۳ ۲۴

۶: کلاچوي ، طاهر ، د میني غېږ ، ۱۹۸۹، منظورعام پرېس پشاور ، ص ص ص : ۱۸۲،۱۸۳، ۱۸۴ ـ

۷: خلیل همېش ، پښتانۀ لیکوال ( اول ټوک ) ، جولائي ۲۰۱۰ ، اباسین پرنټنګ پرېس محله جنګي پېښور ، ص : ۵۳۳

۸: سیال،غازي ، حرفونه خبرې کوي ، ۲۰۱۷ ، اعراف پرنټرز ندیم ټرېډ سنټر محله جنګي پېښور ، ص ص ص : ۵۳، ۵۴، ۵۵